# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

پنځلسم کال، ۱۷۱ ګڼه د ۱۴۰۰ کال د تلې میاشت



د هېواد د بانکي نظام د ټینګښت او ښه والي لپاره هڅې



د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) د مدیره پلاوي د یو نوي یمې غونډې جوړېدل



قاچاق؛ اقتصاد کشورها را تضعیف می نماید



بانکداری اسلامی


افغاني، زمونږ د وياړ،
اقتدار او ملي هويت نښه ده!



## د دې ګڼې مطالب


د هېواد د بانکي نظام د ټینګښت او ښه والي لپاره هڅې

سومین جلسه بمنظور انتقالات پولی (TT) تدویر گردید

د پخواني حکومت له چارواکو تر لاسه شوې نغدې پیسې د افغانستان بانک ته...

له ځینو ځایونو نیول شوې نغدې پیسې د افغانستان بانک ته وسپارل شوې

تدویر جلسه با مسئولین شرکت برشنا

د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) د مدیره پلاوي د یو نوي یمې غونډې جوړیدل

معرفی آمرین دفتر ریاست، نظارت بانکی و زون مرکز

د افغانستان بانک د سرپرست ښاغلي الحاج عبدالقاهر پیغام

له افغانستان سره د بشري مرستو ژمنه

د امنیت ټینګښت او د فساد مخنیوی د ګمرکونو عواید لوړوي

قاچاق؛ اقتصاد کشورها را تضعیف می نماید

بانکداری اسلامی

اقتصادي خبرونه

مختصری در رابطه به کارت اعتباری یا کریدت کارت

بزګرانو ته د پور ورکړه؛ پرمختګ رامنځته کوي

هغه دندې چې لرې پانګې ته اړتیا لري

انتقال پول توسط بانک ها

که غواړئ چې سوداګرۍ مو بریالی شي دا ولولئ

مختصری بر توسعه یافتگی اقتصادی



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: حمید الله رضایی

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank

# د هېواد د بانکي نظام د ټینګښت او ښه والي لپاره هڅې



۱۴۰۰ د تلې ۳ مه — د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزرا د مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د افغانستان بانک په مرکزي دفتر کې د افغانستان بانک د سرپرست ښاغلي عبدالقاهر ( محمد ادریس) په ګډون د افغانستان د بانکونو ټولنې او د سوداګریزو بانکونو له استازو سره د چارو د لا همغږۍ، بانکي نظام د غښتلتیا او ټینګښت لپاره غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزرا مرستیال ښاغلي مولوي عبدالسلام حنفي د پیسو د لېږد یا (TT) او یو شمېر نورو بانکي موضوعګانو په اړه د افغانستان بانک، د افغانستان د بانکونو د ټولنې او سوداګریزو بانکونو د استازو نظرونه او وړاندیزونه واورېدل او په دې برخه کې یې له دوی سره په حل لارو هر اړخیزې خبرې اترې تر سره کړې.

د افغانستان د بانکونو ټولنې او د سوداګریزو بانکونو استازو په خپل وار سره په مالي او بانکي برخه کې خپلې ستونزې او وړاندیزونه له ښاغلي حنفي سره شریک کړل او نوموړي ژمنه وکړه چې د قانون او مقرراتو په رڼا کې به د دوی ستونزو ته حل لارې ولټول شي.

ښاغلي حنفي د سوداګریزو بانکونو استازو ته د خپلو خبرو په اوږدو کې وویل چې د بانکي نظام ټینګښت، پراختیا او د هېواد اقتصادي څرخ ګرځول زمونږ لپاره د ارزښت وړ دي او په دې برخه کې یې اړینې لارښوونې وکړې.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د سوداګرۍ او صنعت د محترم وزارت سرپرست سربېره د مالیې د محترم وزارت د ګمرکونو معین، د مالیې د محترم وزارت ستر سلاکار او سوداګریزو بانکونو یو شمېر استازو هم ګډون کړی وو.









# سومین جلسه بمنظور انتقالات پولی (TT) تدویر گردید

به ادامهٔ جلسات قبلی که تحت ریاست محترم عبدالسلام حنفی معاون رییس الوزرای امارت اسلامی افغانستان در تالار شورای عالی د افغانستان بانک و وزارت مالیه دایر گردیده بود، بتاریخ ۶ میزان ۱۴۰۰ سومین جلسه آن در دفتر مرکزی د افغانستان بانک تدویر شد. در این جلسه معاونین محترم د افغانستان بانک، سرپرست وزارت محترم مالیه، سرپرست وزارت محترم تجارت و صنعت و آمرین بخش های مربوطه د افغانستان بانک نیز اشتراک داشتند.

طی این نشست، طرحی که بخاطر انتقالات پولی بین المللی برای وضعیت فعلی افغانستان ساخته شده بود، مورد تائید قرار گرفت. بانک های تجارتی بعد از تائید این طرح میتوانند که با در نظر داشت شرایط ذکر شده در این طرح، انتقالات پولی (TT) خویش را به کشورهای بیرون انجام دهند.

طی این نشست، نخست هیئت رهبری د افغانستان بانک طرح جامعی را بمنظور رفع نیازمندی های اسعاری کشور، تجار و سرمایه گذاران و مواد ارتزاقی، ادویه جات طبی و زراعتی، مواد احتراقی؛ مواد بهداشتی، مواد خام و پرزه جات صنعتی مورد استفاده در تولید مواد اولیه، پول صرفیه برق، اجناس و خدمات مخابراتی و ترانسپورتی ضروری، حفظ و مراقبت سیستم ها و سایر موارد ضروری به تشخیص د افغانستان بانک پیشکش نموده، و متعاقباً پس از بحث و تبادل نظر نهایی و تائید شد.



# د پخواني حکومت له چارواکو تر لاسه شوې نغدې پیسې د افغانستان بانک ته وسپارل شوې



۱۴۰۰ د وږي ۲۴ مه — د افغانستان د پخواني حکومت د لومړي مرستیال ښاغلي امرالله صالح او یو شمېر نورو چارواکو له ځایونو یوه اندازه نغدې پیسې تر لاسه شوې وې چې د ا.ا.ا د مسئولینو له لوري، د افغانستان بانک ته وسپارل شوې.

د دې پیسو کچه ۱۲،۳۶۸،۲۴۶ دولس میلیونه درې سوه اته شپېته زره دوه سوه او شپږ څلوېښت امریکایي ډالرو ته رسېږي او یوه اندازه د سرو زرو خښتې هم په کې شته چې ډېری برخه یې د امرالله صالح له ځایه تر لاسه شوي دي او د افغانستان بانک ته سپارل شوي دي.

د افغانستان د اسلامي امارت چارواکو د افغانستان بانک ته د یادو نغدو پیسو د سپارلو پر مهال یادونه وکړه چې دوی په هره برخه کې روڼتیا ته ژمن دي او له همدې کبله یې د یادو چارواکو نغدې پیسې د افغانستان بانک خزانې ته سپارلې دي.

یاده کچه پیسې د افغانستان د پخواني نظام د لوړپوړو چارواکو ښاغلي امرالله صالح او د ملي امنیت د ځایونو او راپورونو په ترڅ کې تر لاسه شوې دي چې په نغدي ډول یې ساتلې وې، خو لا هم څرګنده نه ده چې دوی دا دومره زیاتې پیسې له کومې لارې تر لاسه کړې او ولې یې ساتلې وې.

د افغانستان اسلامي امارت روڼتیا ته ژمن دی او د پخوانیو متبارزو سیاسي څېرو له ځایونو تر لاسه شوې نغدې پیسې ملي خزانې ته سپاري.

# له ځينو ځايونو نيول شوې نغدي پيسې د افغانستان بانک ته وسپارل شوې







۱۴۰۰ د تلې ۶ مه — د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو له لوري نيول شوې پيسې چې د خوست، لوګر او پنجشير له ولايتونو څخه تر لاسه شوې وې د افغانستان بانک ته وسپارل شوې.

د دې نغدو پيسو کچه شاوخوا ۱.۶ ميليونه امريکايي ډالر او څه باندې ۷۹ ميليونه افغانی کېږي.

د افغانستان بانک دويم مرستيال ښاغلي مولوي عبدالقدير احمد د يادو پيسو د تسليمۍ پر مهال د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدينو له امانتدارۍ مننه وکړه او خزانې ته د امانتونو سپارنه يې بيت المال ته د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو ژمنتيا په ګوته کړه.

په همدې حال کې د افغانستان د اسلامي امارت هغو کسانو چې د افغانستان بانک ته يې يادې نغدې پيسې سپارلې، د هغو کسانو ستاينه وکړه چې يادې پيسې يې په پوره امانتدارۍ سره دوی ته رسولې دي.

# تدویر جلسه با مسئولین شرکت برشنا







۱۸ میزان ۱۴۰۰ – جلسه ای به رهبری محترم مولوی عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک با مسئولین شرکت برشنا در مورد ایجاد تسهیلات لازم بانکی برای جمع آوری عواید این شرکت تدویر گردید.

در این جلسه محترم مولوی عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک یادآوری نمود که د افغانستان بانک آماده هر نوع همکاری در پرتو قوانین با د افغانستان برشنا شرکت می باشد، تا از طریق بانکهای تجارتی برای مشتریان این شرکت خدمات مفید بانکی را مهیا سازد.

باید گفت که د افغانستان بانک متعهد به فراهم نمودن خدمات بانکی در بخشهای مختلف است، تا مردم بتوانند که در هر گوشه کشور از این خدمات مستفید شوند.



# د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) د مدیره پلاوي د یو نوي یمې غونډې جوړیدل

د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک (ETDB) د مدیره پلاوي یو نوي یمه غونډه د ۱۴۰۰ کال د تلې د میاشتې په ۲۲ نېټه ترسره شوه. په دې غونډه کې د اکو د سوداګرۍ او پراختیا بانک د رئیس او د هغه د مدیره پلاوي له غړو سربېره د غړو هېوادونو لکه افغانستان، پاکستان، ترکیه، ایران، آذربایجان او قرغیزستان استازو ګډون درلوده. په دې غونډه کې لومړی د مدیره پلاوي د غړو لخوا مخکینۍ صورت جلسې تصویب شوې او ورپسې غړو هېوادونو ته د مالي او اعتباري اسانتیاوو او د دې بانک په مقررو او پالیسیو کې د راوړل شویو تعدیلاتو د تصویب په برخو کې له اجنډا سره سم بحث ترسره شو او په دې برخه کې لازمې لارښوونې وکړې.

د یادونې وړ ده چې دا بانک په سیمه کې د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د مالي او اعتباري اسانتیاوو د رامنځ ته کولو، دودولو او وړاندې کولو او همدا ډول د اکو سازمان تر چتر لاندې د غړو هېوادونو د اقتصادي پراختیا د چټکتیا په موخه پرانېستل شوی چې د ترکیې په استانبول کې موقعیت لري. افغانستان هم په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د هغه غړیتوب ترلاسه کړی دی او د هغه په غونډو کې په منظمه توګه ګډون کوي.

د افغانستان بانک تل هڅه کړې ده څو له نړیوالو او سیمه ایزو مالي سازمانونو سره د خپلو اړیکو د تأمینولو او ښه والي په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي او د بانکي او مالي اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې د پام وړ رول لوبولی دی.●

# معرفی آمرین دفتر ریاست، نظارت بانکی و زون مرکز







۳۰ سنبله ۱۴۰۰ – محترم مولوی عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک طی مجلسی آمر عمومی دفتر ریاست، آمر عمومی نظارت از بانک ها و آمر عمومی زون مرکز د افغانستان بانک را به کارمندان این بانک معرفی نمود.

محترم مولوی عبدالقدیر احمد معاون دوم ریاست کُل د افغانستان بانک در جلسه ای که به همین مناسبت تدویر یافته بود، افراد معرفی شده را ورزیده و کار فهم یاد نموده و از کارمندان این بانک خواست که با همکاری مشترک و امانتداری کامل به کارهایشان ادامه دهند.

معاون دوم بانک افزود که همه ما دست به دست داده و این کشور را میسازیم، به گفته وی در ۲۰ سال گذشته افراد از خارج کشور آمدند، فقط برای امرار معاش کار نمودند و کشور را در شرایط سخت تنها گذاشتند.

وی در اخیر جلسه به کسانیکه تازه به کار گماشته شده اند، آرزوی موفقیت نمود و از آنها خواست تا بیش از پیش برای بهبود نظام اقتصادی و بانکی کشور تلاش نمایند.

قابل ذکر است که محترم صدیق الله خالد منحیت آمر عمومی دفتر ریاست، محترم عبدالرحمن قانت به حیث آمر عمومی نظارت از بانک ها و محترم فدا محمد فیضان منحیث آمر عمومی زون مرکز به وظایف گماشته شده اند.

## بسمه تعالی

# د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي الحاج عبدالقاهر پیغام

الحمدلله و الصلاة والسلام علی رسول الله

اما بعد!

درنو هېوادوالو

د افغانستان بانک ټولو درنو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان سوداګریز بانکونه د دوی تر جدي څارنې لاندې دي او خپل ورځني عملیات تر پخوا ښه تر سره کوي او له بشپړ خونديتوب څخه برخمن دي. د نړۍ او سیمې ټول بانکونه د معمول له مخې خپلې پانګې تر لس سلنې پورې په نقد ډول ساتي او پاتې نورې په ګټو سوداګریزو کاروبارونو کې په کار اچوي، ترڅو خپلو هېوادوالو ته مالي خدمتونه په سم ډول ورسوي.


د افغانستان سوداګریز بانکونه بیا په منځني ډول تر پنځوس سلنې پورې خپلې افغانۍ او نور اسعار له ځان سره لري. له دې څخه دا جوتېږي چې زمونږ بانکي سکتور غښتلی دی او پاتې نور یې په ګټو سوداګریزو چارو کې د هېواد د ننه او بهر پانګونې تر سره کړې دي، څو د هېواد په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي.

د افغانستان اقتصادي حالت ته په کتلو سره ټول بانکونه د صرافانو، شرکتونو او ملي سوداګرو په ګډون به ډېر ژر خپل کارونه عادي حالت ته را وګرځوي او خپلې چارې به په ښه او ډاډمنه توګه پر مخ یوسي. همدارنګه د افغانستان بانک ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې بانکي سکتور به له کلک عزم، له فساد پرته او له نویو بانکي برنامو سره خپلو هېوادوالو ته بانکي خدمات وړاندې کړي.

په پای کې د هېوادوالو له صبر او حوصله مندۍ څخه مننه کوو

د افغانستان بانک سرپرست رئیس

الحاج عبدالقاهر (محمد ادریس)



# له افغانستان سره د بشري مرستو ژمنه

له افغانستان سره تر یوه میلیارد ډالرو زیاتو د بشري مرستو ژمنه وشوه. د اسلامی امارت له لوري د واک تر نیولو وروسته هم ډیرو هېوادونو په افغانستان کې د احتمالي بشري کړکیچ له کبله په میلیونونو ډالره مرسته اعلان کړه. دغه مرستې د ملګرو ملتونو له خوا په رابلل شوې غونډه کې وشوې.

ملګرو ملتونو د روان ۱۴۰۰ کال د وږي د میاشتې پر ۲۳ نېټه دغه غونډه د دې لپاره رابللې وه چې څه د پاسه ۶۰۰ میلیونه ډالر راټول شي، څو تر دسمبر وروسته هم په افغانستان کې د بشري مرستو لړۍ جاري وساتلی شي.

د کنفرانس په پای کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي وویل چې بسپنه ورکوونکو هېوادونو تر یو میلیارد ډالرو د زیاتو مرستې ژمنه کړې.

په اګست میاشت کې د لویدیځ له ملاتړ څخه برخمن افغان حکومت له را پرځیدو او واک ته د اسلامی امارت له رسیدو سره افغانستان د مخ پر زیاتیدونکي یوه بشري کړکیچ سره مخامخ دی.

ډېرو هېوادونو چې غوښتل یې مرستې وکړي، په دې هکله اندېښنې درلودې چې د طالبانو د واکمنی پر مهال به مرستې څرنګه ولګول شي.

تمه ده چې د افغانستان اسلامي امارت له هغو ادارو سره چې د دې مرستو د وېش په برخه کې کار کوي، ګډ کار وکړي ترڅو په دې برخه کې د فساد له رامنځته کېدو مخنیوی وشي.

»



له دې وړاندې هم هغو هېوادونو چې له افغانستان سره يې په بشري برخو کې مرستې کولې، داسې انديښنې درلودې او نيوکه يې دا وه چې له دې هېواد سره کېدونکې مرستې په ښه ډول نه لګول کېږي.

که چېرته په دې برخه کې د فساد مخنيوی وشي او مرستې په ښه ډول د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسول شي. دا مرستې کولای شي د يو زيات شمېر هغو کورنيو لاس نيوی وکړي چې دا مهال له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

افغانستان چې نوی له جنګ او جګړو را وتلی دی، تمه ده چې نړيوال هېوادونه به خپلو بشردوستانه او نورو مرستو ته دوام ورکړي او د ژوند په دې حساسو شرايطو کې به له افغانانو سره اوږه په اوږه کار وکړي.

که څه هم د ا.ا.ا د بهرنيو چارو وزارت د روان ۱۴۰۰ کال د وږي مياشتې پر ۲۳ نېټه د نړيوالو هېوادونو له بشري مرستو هرکلی وکړ، د دې تر څنګ نړيوالو هېوادونو ته يې ډاډ ورکړ چې د افغانستان اسلامي امارت له دوی سره د دې مرستو په وېش کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

بلخوا د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې عالي کميشنر فليپوګراندي کابل ته د خپل سفر په لړ کې د طالبانو د بهرنيو او کډوالو چارو له وزيرانو سره د بشري مرستو، کډوالو او بېځايه شويو په اړه غږېدلی دی. د طالبانو د بهرنيو چارو وزير پر افغان کډوالو غږ کړی چې بېرته خپل هېواد ته راستانه شي.

فليپوګراندي له اسوشيتيد پرس سره په خبرو کې د خپل سفر په اړه ويلي چې په افغانستان کې د اقتصادي بحران د مخنيوي لپاره چې د تاوترخوالي، بې ثباتۍ او د کډوالۍ لامل کېږي، د نړيوالې ټولنې او طالبانو ترمنځ بېړني جوړ جاړي ته اړتيا ده. نوموړي ويلي چې نړيواله ټولنه او طالبان بايد په افغانستان کې د ثبات د راوستلو لپاره يوه ګډه لاره ومومي.

فليپوګراندي له افغانستان سره د جنيوا په کنفرانس کې د نړيوالو د ۱.۲ ميليارد ډالرو د مرستې ژمنو ته په اشارې سره يادونه کړې چې ژمی را روان دی او دغه بشري مرستې بايد ژر تر ژر افغانانو ته ورسيږي.

د جينيوا کنفرانس چې د تيرې دوشنبې په ورځ د شاوخوا ۱۰۰ هېوادونو د استازو په ګډون جوړ شوی و په کې له افغانستان سره د ۱.۲ ميليارده ډالرو د مرستې ژمنه وشوه.

د اسلامی امارت ادارې د بهرنيو چارو وزير په خپل مطبوعاتي کنفرانس کې وويل چې د دوې د کوشش به دا وي چې له هېواد نه بهر ته تللي مهاجرين بيرته هېواد ته راشي. هغه وويل چې د بېځايه شويو د بيرته ستنيدو لپاره لارې چارې برابروي.

ښاغلی اميرخان متقي د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له مشر سره په ليدنه کې هم ويلي چې غواړي افغان کډوال بېرته هېواد ته راستانه کړي او طالبان په دې برخه کې هر راز مرستو ته چمتو دی.

د شمېرو له مخې دا مهال شاوخوا ۵ ميليونه افغانان د جګړو، تاوتريخوالو او وچکاليو له امله په افغانستان کې بېځايه شوي دي.●

حسيب الله نوري

---

سرچينې:

۱. د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې مشر کابل کې له طالب چارواکو سره د بشري مرستو په اړه خبرې کړي/ 15/09/2021/Hafiz Ahmad Miakhel

۲. د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې مشر کابل کې له طالب چارواکو سره د بشري مرستو په اړه خبرې کړي– Info Migrants

# د امنیت ټینګښت او د فساد مخنیوی د ګمرکونو عواید لوړوي

په هېواد کې د امنیت نشت او اداري فساد هغه څه وو چې له دې وړاندې یې د عوایدو راټولونې په وړاندې خنډونه جوړ کړي وو، خو تمه ده چې په هېواد کې د ا.ا.ا د نوي نظام په راتګ سره به دې برخې ته پاملرنه زیاته شي او د ګمرکونو عواید به له هر ډول لاسوهنې پرته را ټول شي.

له لاسوهنې پرته د ګمرکونو د عوایدو را ټولولو د هغه کچه لوړوي او دې ته لاره هواروي چې هېواد مو د په ځان بسیاینې پر لور ګامونه پورته کړي. تر دې وړاندې نیوکې دا وې چې په ګمرکونو کې اداري فساد شته او نا امني د دې لامل شوې وه چې د هېواد له ټولو برخو عواید په ښه ډول راټول نشي.

د افغانستان د ګمرکونو ټول سیستمونه چې د افغانستان بانک له سیستمونو سره تړل شوي دي، که په نوي نظام کې له دې سیستمونو څخه ګټه واخیستل شي، شونې ده چې د ګمرکونو د عوایدو کچه به د پخوا په پرتله څو ځله لوړه شي.

له دې وړاندې دا شکایتونه هم موجود وو چې ګواکې په لویو لارو کې له بار وړونکو موټرونو د بېلابېلو ډلو له لوري پیسې اخیستل کېږي، خو د نوي نظام په راتګ سره د دې ډول کړنو مخه نیول شوې ده او څوک حق نه لري چې د بار وړنکو موټرونو له چلوونکو په یو او بل نوم پیسې واخلي.

له نیکمرغه باید ووایم چې دا چاره هم کولای شي په بازارونو کې د بیو ټیکاو رامنځته کړي، مانا دا چې تر دې وړاندې چې کومې پیسې د باروړنکو موټرونو له خاوندانو اخیستل کېدې، سوداګر اړ وو چې دا ټولې پیسې د خپلو سوداګریزو مالونو په لګښتونو کې ور زیاتې او په بازارونو کې د بیو د لوړېدو لامل شي.

د اقتصادي پرمختګ لپاره د امنیت شتون اړین دی. دا مهال چې افغانان دې ستر آرمان ته رسېدلي په کار ده چې د اقتصادي پرمختګ لپاره هلې ځلې ډېرې شي او لا زیاتو سوداګریزو فعالیتونو ته مخه کړي.

د افغانستان د پخواني نظام د مالیې وزارت سرپرست محمد خالد پاینده په خبره، په ورځني ډول د هېواد په ګمرکونو کې کابو ۸ میلیون امریکایي ډالر غلا کېدل. د نوموړي یادو څرګندونو ته په کتلو سره ویلای شو چې که یوازې د همدومره کچې پیسو د

»



غلا مخنیوی وشي په کلني ډول به مو شاوخوا ۲.۸ میلیارده امریکایي ډالر له غلا ژغورلي وي.

تمه ده چې د افغانستان د اسلامي امارت د اړوندو برخو چارواکي به یادو ټکو ته پوره پاملرنه وکړي او د بیت المال له ضایع کېدو به مخنیوی وکړي. « د هغه په وینا، په ځینو موردونو کې چارواکي په تېره بیا والیانو او امنیه قوماندانانو د ګمرکونو په فساد کې لاس درلود چې هره شپه به سلګونه موټر له ګمرکي تعرفې پرته له بندرونو تېرېدل.

دا او دې ته ورته ډېرې داسې لارې چارې موجودې وې چې سوداګر او موټر چلوونکي یې له ستونزو سره لاس او ګرېوان کړي وو، تمه ده چې نوی نظام به دې ټولو ټکو ته پوره پام وکړي او هېڅا ته به اجازه ور نه کړي چې له مسئولو چارواکو پرته له سوداګرو او موټر چلوونکو تر ټاکل شوې کچې زیاتې پیسې واخلي.

همدارنګه د امنیت ټینګښت، دې ته لاره هواروي چې زیات شمېر هېوادوال په کور د ننه پانګې‌اچونې ته زړه ښه کړي او دا چاره هم د دې لامل شي چې د ګمرکونو له لارې په عوایدو کې زیاتوالی رامنځته شي. د عوایدو له زیاتوالي سره د خلکو په ژوند کې مثبت اقتصادي بدلون رامنځته کېږي او د هېواد په ګوټ ګوټ کې د خلکو لپاره د دندو زمینه مساعدېږي.

اوس مهال د هېواد زیات شمېر وګړي له بې‌روزګارۍ کړېږي او یوازینۍ غوښتنه یې په کور د ننه د دندو د زمینې برابرېدل دي. که په کور د ننه د خلکو لپاره د دندو زمینه برابره شي ځوک به اړ نه شي چې له هېواده بهر لاړ شي او له سختو ستونزو سره لاس او ګرېوان شي.

په هېواد کې څو کلنې جګړې او بې‌روزګارۍ د دې لامل شوې وې چې زیات شمېر هېوادوال مو له افغانستان څخه بهرنیو هېوادونو ته د کډې کولو لپاره اړ کړي، اوس چې په هېواد کې امن قایم شوی دی، تمه ده چې د بې‌روزګارۍ او نورې ټولې ستونزې به حل شي او هېواد کې به مو شته ناخوالې د تل لپاره ختمې شي.●

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:

1. کندهار کې له بار وړونکو موټرو هر کال ۲۱۶ میلیون افغانۍ غیر قانوني اخیستل کېږي/ 13 Mar 2021 - 11:08 پژواك
https://pajhwok.com/ps/2021/03/13/in-kandahar-3-million-afghanis-is-illegally-taken-from-trucks-every-year/

2. د هېواد په ګمرکونو کې فساد؛ د ورځې کابو اته میلیون ډالر غلا کېږي/د غبرګولی ۱مه، ۱۴۰۰د هېواد په ګمرکونو کې فساد؛ د ورځې کابو اته میلیون ډالر غلا کېږي – 8صبح ورځپانه(8am.af)



# قاچاق؛ اقتصاد کشورها را تضعیف می نماید




انتقال اشیا و یا خرید و فروش اشیا بدون پرداخت محصول گمرکی را قاچاق گویند. قاچاق یک پدیدهٔ مخرب است که بر پیکر اقتصاد کشور ها صدمه وارد نموده و یک عمل غیر قانونی در اقتصاد محسوب می گردد. این پدیده منفی به طور کُل برنامه ها و سیاست های اقتصادی و توسعوی کشور ها را مختل ساخته و منجر به کاهش تولیدات داخلی، افزایش بیکاری، کاهش عواید دولت و ده ها مشکل دیگر می شود.

»

قاچاق فشار های مالی زیادی را بر پیکر اقتصاد کشورهای وارد می نماید که قسمت عمده و قابل ملاحظه عواید مالیاتی خود را از طریق محصولات گمرکی بدست می آورند، زیرا کشور های فوق قسمت عمده محصولات صنعتی و حتی مواد خوراکه مورد نیاز خود را از خارج وارد نموده که تابع به محصول گمرکی وارداتی می باشد. بناءً واردات امتعه و سایر اجناس از طریق قاچاق سبب کاهش و تنزل عواید دولت از طریق محصولات گمرکی وارداتی و صادراتی می گردد.

باید گفت که یک قسمت عمدهٔ عواید مالیاتی افغانستان نیز از طریق محصولات گمرکی بدست می آید. اگر دروازه ها و بنادر کشور از سوی حکومت افغانستان به شکل جدی کنترول شود، عواید حاصله از آن بر بودجه و اقتصاد کشور عزیز ما کمک زیادی خواهد نمود.

در کنار موارد فوق، قاچاق کالا ها ( مواد خوراکه، سامان آلات برقی و ...) موجب کاهش و تضعیف تولیدات داخلی شده و میزان بیکاری را در سطح کشور نیز افزایش می دهد و این امر سبب متأثر شدن تولید ناخالص داخلی شده که در نتیجه کاهش رشد اقتصادی کشور را در پی خواهد داشت. هر گاه قاچاق اجناس و اشیای قاچاقی وارد کشور شود، درین حالت محصول گمرکی پرداخت نگردیده و جنس وارد شده نسبت به اجناس داخلی به قیمت پائین عرضه می گردد که در اثر آن تصدی های تولیدی اشیای مشابه داخلی قدرت رقابت را با اشیای قاچاقی دارا نبوده و بنابر آن تصدی های داخلی رو به رکود مانده و ورشکست می شوند. هر گاه اشیا و کالاها از طریق قانونی با پرداخت محصول گمرکی وارد کشور گردد، این نوع تأثیرات سوء را بر اقتصاد و صنایع داخلی کشور وارد کرده نمی تواند، زیرا قیمت آنها با پرداخت محصول گمرکی بلند رفته تولیدات داخلی مورد حمایت قرار گرفته و زمینه رقابت تولیدات داخلی با تولیدات مشابه کشور های خارجی فراهم میشود. در این حالت می توان گفت که تولیدات داخلی می تواند با تولیدات مشابه کشور های خارجی رقابت سالم نموده و فعالیت های خود را به شکل نورمال انجام دهند.

قاچاق باعث کاهش انگیزه سرمایه گذاری مولد اقتصادی نیز می گردد و در نتیجه به عوض اینکه سرمایه در امور مولد اقتصادی بکار افتد و باعث تولید و اشتغال شود به سوی قاچاق منحرف می شود. ترویج قاچاق موجب کاهش امور تولیدی و شغل آفرینی می گردد و در اثر آن دامنه فقر نیز گسترش خواهد یافت.

قاچاق انواع و اشکال مختلف دارد که درینجا بطور مختصر قاچاق وارداتی و قاچاق صادراتی اجناس و کالاها را بیان میداریم.

**قاچاق وارداتی:** در قاچاق وارداتی جنسی که در داخل کشور تولید می شود، نسبت به جنس وارداتی که به صورت قانونی وارد می شود به قیمت ارزانتر تمام می شود. درین حالت وارد کنندگان سعی می نمایند تا کالا های وارداتی را از طریق قاچاق وارد کشور نمایند تا به قیمت نازلتر برای شان تمام گردد و از آن طریق فایده بیشتری را بدست بیاورند.

**قاچاق صادراتی:** در قاچاق صادراتی اشیای که صادرات شان ممنوع است و

»

در بازار های خارجی فروش و فایده بیشتر دارند، از طریق قاچاق صادر می گردند تا علاوه بر تکافوی مصرف تمام شد از این طریق بتوانند فایده زیاد را نصیب خود سازند. همچنان در صورتیکه اشیای صادراتی یک مملکت ممنوع نباشد، ولی تعرفه های آن فوق العاده زیاد باشد، درین صورت نیز کالا هایی که صادر می گردد به یک قیمت بالا تمام شده که نمیتواند در بازار رقابت نماید. بدین منظور قاچاقبران سعی و کوشش بخرج می دهند تا جنس مورد نظر را از طریق قاچاق به بازار های جهانی صادر نمایند، در صورت دیگر زمانی که یک جنس در یک کشور وارد می گردد کشور وارد کننده نظر به بعضی ملحوظات مانند حمایه از تولیدات داخلی تعرفه های گمرکی را بلند تعیین می نمایند که درین صورت واردکننده جنس مجبور به انتقال آن از طریق قاچاق می شود تا جنس متذکره به قیمت ارزانتر به آنها تمام گردد.

به طور کُلی اثرات منفی قاچاق به انواع ذیل می باشد که مختصراً آنها را به معرفی می گیریم.

۱. قاچاق کالاها سبب کاهش تولیدات داخلی و افزایش میزان بیکاری شده و در نتیجه تأثیرات نامطلوبی را در تولید ناخالص داخلی در پی دارد.

۲. قاچاق کالاها توازن در بیلانس تجارت خارجی کشور را برهم میزند و اهداف دولت در زمینۀ نظارت بر ارز را به مشکلات مواجه می سازد و در نتیجه قاچاق اجناس، سیاست های تجارتی را هدف قرار داده و بر سیاست های دولت در این زمینه صدمه وارد می نماید.

۳. قاچاق کالا باعث اختلال و یا کاهش در حصول درآمد ها شده و موجب کسر بودجه و اختلال در اجرای برنامه ها و اهداف توسعوی کشور می شود. یعنی یکی از زیان های قاچاق محروم شدن خزانه دولت از محصولات گمرکی، مالیاتی و غیره می باشد که باید به خزانه دولت جمعاوری می شد.

۴. مشکل دیگر قاچاق این است که جنس قاچاق وارداتی بدون کنترول و استندرد ها داخل کشور شده که موجب زیان فراوان بر صحت و سلامت مردم می شود و همچنان مردم از خرید آن آسیب پذیر می شوند.

مبارزه با قاچاق کالاها اگر چه کار دشوار و نیازمند همکاری و قاطعیت همه ماست، اما با در نظرداشت دشواری ها و مشکلات باید جلو این پدیده را گرفت تا باعث افزایش عواید دولت، تسریع تجارت، تقویه تولیدات داخلی، افزایش اشتغال و کاهش فقر گردد و در نتیجه اثرات مثبت را بر تولید ناخالص داخلی بگذارد و سبب رشد و انکشاف اقتصادی کشور گردد.


یما عفیف مدیر نشرات د افغانستان بانک

منبع و مأخذ:

۱- مبادی علم مالی مولف پوهاند عبدالله حقایقی چاپ ۱۳۹۱

۲- www.rajanews.com

۳- ariaclick.com



# بانکداری اسلامی

در جهان امروزی، بانکداری اسلامی همان اهداف بانکداری متداول دنیا را تعقیب می کند، اما با این تفاوت که در بانکداری اسلامی معاملات بر اساس فقه معاملات اسلامی صورت می گیرد و مهم ترین اصل، در بانکداری اسلامی تقسیم سود و زیان است.

یکی از فعالیت های دیگر بانکداری اسلامی عبارت از پرداخت وام به شرکت ها با نرخ بهرهٔ شناور می باشد، در این سیستم سود بانک دقیقاً با سود خود شرکت برابر می باشد که در بانکداری اسلامی بنام مشارکت یاد می گردد.

بانک های اسلامی در ارائهٔ خدمات خود به کمیتهٔ بانکداری اسلامی نیازمند می باشند. هدف از تأسیس این کمیته عبارت از اطمینان از اجرای احکام شریعت اسلامی در قرار داد ها و معاملات اسلامی است.

مفاهیم عمدهٔ و محصولات بانکداری اسلامی زیاد اند که در اینجا بطور خلاصه به تعدادی از آن چون مشارکت ( سرمایه گذاری مشترک)، مضاربه ( تقسیم سود)، ودیعه ( به امانت گذاشتن)، اجاره به شرط »

تملیک و مرابحه ( قرارداد مبتنی بر قیمت تمام شده) و قرض الحسنه پرداخته می شود.

**مشارکت:** در سیستم مشارکتی، بانک تأمین کنندهٔ منابع مالی و همچنان شرکت مجری پروژه بوده و در یک طرح اقتصادی مشترکاً با هم فعالیت می نمایند که در این صورت سود و زیان نیز میان آنها بطور مساویانه تقسیم می شود.

**مضاربه:** مضاربه عبارت از آن است که یک طرف، مسئول تأمین سرمایه و طرف دیگر مسئول انجام کار و مدیریت آن را به عهده می گیرد و هرگونه منفعت بر اساس توافق قبلی میان طرفین تقسیم می گردد. در این عقد به وام‌دهنده رب‌المال و به وام‌گیرنده مضاریب می‌گویند.

**ودیعه:** در صورت عقد ودیعه، بانک به حیث یک معتمد نزد سپرده گذاران است. در بانکداری اسلامی هر کس میتواند پول خود را نزد بانک به امانت بسپارد و هر وقتی که خواست بدون کم و کاست آنرا دوباره دریافت کند. در این سیستم کدام نوع هدیهٔ از طرف بانک سپرده گذار تضمین نمی شود، اما با آنهم بانک تلاش می کند که بر اساس یک دوره سپرده گذاری هدیه ی به وی بدهد.

**مرابحه:** مرابحه عبارت از توافق بین دو طرف معامله برای منفعت سود معاملهٔ مذکور می باشد. یا مرابحه عبارت از قراردادی است که بر اساس آن فروشنده هزینه و فایدهٔ مورد نظر خود را اعلان می نماید. بانکداری اسلامی هم این نوع قرار داد را به عنوان یکی از تخنیک های کاری خود پذیرفته است.

**اجاره:** اجاره عبارت از فروش یک جنس برای مدت زمان معین در مقابل دریافت پاداش معینی است که برای به خدمت گرفتن و اجیر کردن مورد استفاده قرار می گیرد. مانند اجارهٔ زمین و غیره.

**قرض الحسنه:** در این صورت یک وام زمانی با فضلیت محسوب می گردد که در پایان دورهٔ آن در وقت پرداخت، به هیچ عنوان مبلغی به آن اضافه نگردد. قرض الحسنه بیشتر مخصوص نیازمندان بوده و پاداش آن نزد خداوند است.

در خاتمه باید گفت که در قراردادهای رهنی، به جای اینکه بخاطر خریدن کالا وام در اختیار خریدار قرار گیرد، بانک خود اقدام به خرید کالا نموده، آنرا به خریدار می فروشد و پول آنرا به شکل قسط وار دریافت می کند که در آنصورت در همچو معاملات سود و جریمه دریافت نمی گردد.

در قرارداد رهنی، بخاطر جلو گیری از هرگونه بهانه و کمی و کاستی بانک اقدام به دریافت وثیقه نموده و به تعقیب آن کالا یا ملک مورد معامله به نام خریدار ثبت و پروسهٔ مرابحه تکمیل می گردد. همچنان در این سیستم بانک از شیوهٔ اجاره نیز استفاده می نماید. در این سیستم، شیوه طوری است که بانک وسیلهٔ نقلیه را با قیمت بالاتر از قیمت معمولی بالای خریدار می فروشد، اما مالکیت آن تا پایان مدت اقساط نزد بانک محفوظ می باشد.●

عبدالحفیظ شاهین


منابع:

۱. https://civilica.comعنوان/ ویژگی بانکداری اسلامی و تأثیر آن بر رشد اقتصادی – سیویلیکا تاریخ نشر سال ۱۳۹۷

۲. https://moshaveranco.com نظام بانکداری اسلامی چه می دانید – مشاوران تاریخ نشر / سال ۱۳۹۹

۳. د افغانستان بانک | مقره های بانکداری اسلامی / عنوان ttps://www.dab.gov.af

د افغانستان اسلامي امارت

# د افغانستان بانک خبرتیا

د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې سره سم د افغانستان دودیزه پیسې او پولي واحد افغانۍ دي. له همدې امله د ټولو افغانانو، دولتي او خصوصي ادارو او مؤسسو څخه غوښتل کېږي څو په قرار دادونو، نورو پولي معاملو او په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو کار واخلي، څو اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي.

# اطلاعیۀ د افغانستان بانک

مطابق مادۀ سی و سوم قانون د افغانستان بانک پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است. بناءً از عموم افغان ها، دوایر و مؤسسات دولتی و خصوصی خواسته میشود تا در قرار داد ها و سایر معاملات پولی و داد و ستد های اقتصادی از پول افغانی استفاده نمایند تا سبب رشد اقتصادی گردد.



# اقتصادي خبرونه

**سره صلیب له افغانستان سره د بشري مرستو غوښتنه وکړه**

په افغانستان کې د سره صلیب نړیواله کمېټه وايي، دغه هېواد اوس مهال زیاتو بشري مرستو ته اړتیا لري او له نړیوالې ټولنې څخه يې له افغانستان سره د مرستو د دوام غوښتنه کړې ده.

د سره صلیب نړیوالې کمېټې د (تلې۱۹) په خپل فېسبوک پاڼه لیکلي: "بشري اړتیاوې په افغانستان کې د پخوا په شان ډېرې دي. موږ له نړیوالې ټولنې غواړو په هغو برخو کې چې ډېره ورته اړتیا ده لکه روغتیاڅارنې او بنسټیزو خدمتونو ته د لاسرسي په برخو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي".

په همدې مهال د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا (اوچا) د میلیونونو افغانانو بېځایه کېدل، اقتصادي کړکېچ، له سقوط سره د روغتیايي مرکزونو مخامخ کېدل، د ټولو پر مخ د ښوونځیو نه پرانیستل، د ښځو او نجونو حقوق له خطر سره مخامخ کېدل، د کرونا د څلورمې څپې رامنځته کېدو احتمال او روانه وچکالي د افغانانو په وړاندې لویې ننګونې بللې دي.

اوچا ویلي چې ملګري ملتونه او بشري بنسټونه په افغانستان کې اړمنو خلکو ته د مرستو رسېدو هڅه کوي.

د ملګرو ملتونو سازمان د تېرې (تلې۱۳) ویلي وو چې اوس مهال ۳.۲ میلیون افغان ماشومان د خوارځواکۍ له جدي ګواښ سره مخ دي. دغه سازمان همدارنګه ویلي چې د روان کال تر پای ته رسېدو پورې به تر پنځه کلنۍ ښکته نیمايي ماشومان له دغه ستونزې څخه اغېزمن شي.

په همدې مهال په کابل کې د ایران سفارت په کندز ولایت کې د تېرې جمعې ورځې د ځانمرګي برید د قربانیانو سره د بشري مرستې خبر ورکړی دی. یاد سفارت ویلي چې نن په بشري مرستو بار یوې ایرانۍ طیارې له ایران څخه کندز ته پرواز وکړ.

بلخوا تېره ورځ د روغتیا نړیوال سازمان وویل چې د اګست میاشتې له وروستیو څخه بیا تر دا مهاله افغانستان ته ۱۸۶ټنه روغتیايي مواد انتقال شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د طالبانو او امریکا استازو په قطر کې د متحده ایالاتو لخوا د افغانستان ولس سره د مخامخ بشري مرستو په برابرولو هم خبرې کړې.

**جایزه نوبل اقتصاد؛ 'آزمایش‌های طبیعی' برگ برنده سه اقتصاددان شد**

جایزه نوبل اقتصاد سال ۲۰۲۱ به صورت مشترک به دیوید کارد، جاشوا انگریست و گیدو ایمبنز به دلیل به کار بردن "آزمایش‌های طبیعی"

»

در تحقیقاتشان درباره ارتباط میان سیاست‌های اقتصادی و رویدادهای دیگر رسید.

آزمایش های طبیعی با رویکردی تجربی، موقعیت‌های زندگی واقعی را برای ارزیابی تأثیر تصمیم‌ها و سیاست‌های دولتی بررسی می‌کنند.

دیوید کارد کانادایی در پژوهش‌های خود تأثیر افزایش حداقل دستمزد را بر میزان اشتغال در ایالت نیوجرسی امریکا سنجیده است. یافته‌های او باعث تشویق محققان برای بازنگری در دیدگاهی شد که می‌گفت افزایش حداقل دستمزد موجب کاهش اشتغال می‌شود.

اوا مورک، یکی از اعضای کمیته جایزه نوبل در علوم اقتصادی می گوید "آزمایش‌های طبیعی همه جا در جریان است".آقای کارد از دانشگاه کالیفرنیا به خاطر تحقیق درباره بازار اشتغال و اقتصاد جایزه نوبل دریافت کرد.

جاشوا انگریست از دانشگاه ام‌آی‌تی و گیدو ایمبنز، استاد هلندی دانشگاه استنفورد هم به صورت مشترک برای یافته هایشان درباره "روابط علت و معلولی" در اقتصاد جایزه نوبل گرفتند.

جایزه نقدی برندگان ۱۰ میلیون کرون سوئد (۸۳۹ هزار دلار) است که دیوید کارد نیمی از آن را دریافت می‌کند و دو نفر دیگر که تحقیق مشترک داشتند، نیمی دیگر را.

جایزه نوبل اقتصاد از جوایز اصلی نوبل محسوب نمی شود و بنیاد نوبل هر سال آن را به عنوان آخرین جایزه اعلام می‌کند. بقیه جوایز نوبل در رشته‌های دیگر بر اساس وصیت‌نامه آلفرد نوبل در سال ۱۸۹۵ اهدا می‌شود.

جایزه نوبل اقتصاد که رسماً با عنوان "جایزه بانک مرکزی سوئد در اقتصاد به یادبود آلفرد نوبل" شناخته می شود، در سال ۱۹۶۸ ابداع شد.

پارسال این جایزه به پل میلگرام و رابرت ویلسون از دانشگاه استنفورد به دلیل تحقیقاتشان درباره چگونگی بالا بردن بازدهی در اداره مزایده و حراجی‌ها رسید.

سرچینې:

۱- د امریکا غږ/ تله ۱۹، ۱۴۰۰

سره صلیب له افغانستان سره د بشري مرستو غوښتنه وکړه(pashtovoa.com)

۲- بی بی سی/ ۱۹میزان۱۴۰۰ - ۱۱ اکتبر ۲۰۲۱

جایزه نوبل اقتصاد؛ 'آزمایش‌های طبیعی 'برگ برنده سه اقتصاددان شد BBC News - فارسی



# مختصری در رابطه به کارت اعتباری یا کریدت کارت

کریدت کارت، یک نوع کارت پرداخت و دارای حد اعتباری بوده که از جانب یک مؤسسه مالی ( معمولاً بانک ها) به مشتری صادر گردیده تا مشتری بتواند با استفاده از آن برای خریداری اجناس و خدمات، پول پرداخت کند.

اگر شما در حساب تان پول داشته باشید و از کارت اعتباری نیز استفاده کنید، ولی پول موجود در حساب بانکی تان بیشتر از مقدار پولی باشد که شما از کارت اعتباری تان مصرف کرده اید، در آن صورت بانک در ختم ماه پول استفاده شده از کارت اعتباری را از حساب بانکی شما وضع کرده و لازم نیست تا شما نگران پرداخت پول مصرف شده باشید.

از کارت اعتباری، شما می توانید برای خریداری اموال و خدمات از طریق انترنت و از فروشگاه های که ماشین پاس داشته باشند، استفاده نموده و نیز با داشتن کارت اعتباری می توانید از ماشین های خود کار صرافی پول نقد برداشت کنید.

اگر شما در یک بانک حساب جاری و یا حساب پس انداز داشته باشید، شما می توانید به کارت اعتباری درخواست کنید. داشتن حساب پس انداز و یا حساب جاری در یک مؤسسه مالی باعث می شود تا شانس شما در بدست آوردن کارت اعتباری افزایش یابد. زیرا بانک در این صورت در رابطه به مقدار و منبع عاید و توانایی بازپرداخت شما معلومات داشته و می داند که شما تا کدام اندازه شایسته دریافت کارت اعتباری هستید.

متقاضی کارت اعتباری می تواند درخواست خویش را برای دریافت کارت مذکور به بانک مورد نظر ارائه کند. اگر متقاضی کارت اعتباری، مشتری موجود بانک نباشد، در این صورت شاید ایجاب کند که در بانک مورد نظر حساب جاری باز کند. بانک نیاز دارد تا معلومات لازم را در باره منبع و مقدار عاید متقاضی مذکور بدست آورده و دریابد که متقاضی تا چه اندازه شایسته دریافت این

»

کارت بوده و آیا توانایی و خواهش بازپرداخت اعتبار بدست آورده شده را دارد یا خیر؟ مهمترین عاملی که میزان شایستگی اعتباری شما را می تواند تعیین کند، عبارت از توانایی بازپرداخت، مقدار عاید و خواهش بازپرداخت شما می باشد.

کارت های اعتباری می توانند بدون تضمین و با تضمین باشند. کارت اعتباری بدون تضمین وقتی به شما داده می شود که بانک در رابطه به توانایی باز پرداخت، مقدار عاید و علاقمندی بازپرداخت شما معلومات داشته و باورمند باشد که در صورت استفاده از اعتبار (قرضه) داده شده، پول آن را دوباره بازپرداخت می کنید. کارت اعتباری بدون تضمین به افرادی اعطا می شود که مشتری سابقه دار یک بانک بوده و یا در نزد اداره ثبت اعتبارات عامه د افغانستان بانک دارای درجه و سوابق خوب اعتباری باشند.

در صورتیکه بانک روی توانایی بازپرداخت، مقدار عاید و علاقمندی بازپرداخت یک متقاضی باور نداشته و یا معلومات کافی در اختیار نداشته باشد، در آن صورت از متقاضی می خواهد تا به اندازهٔ مبلغی که مشتری می خواهد اعتبار بدست آورد، پول در حساب خود نگهداری کند. بانک این پول مشتری را منجمد ساخته و در صورتیکه استفاده کننده کارت اعتباری پول بانک را دوباره بازپرداخت نکند، بانک مذکور از پول منجمد شده، دوباره پول خود را بدست می آورد. در صورتیکه شخص پول استفاده شده بانک را دوباره بازپرداخت کند، اعتبارش نزد بانک افزایش یافته و در آینده شاید که برایش کارت اعتباری بدون تضمین پیشکش گردد. اکثر کارت های اعتباری توسط کمپنی های ماستر و ویزه فراهم می شوند.

کارت های اعتباری دارای یک نوع رمز به نام پن کود (PIN) یا شماره تشخیص کننده شخصی می باشد. پن کود یک عدد چهار رقمی بوده که شما برای خود به صورت شخصی و محرم انتخاب نموده و صرف با ورود شماره پن کود کریدت کارت تان را می توانید از کارت تان استفاده کنید.

## مزایای کارت اعتباری:

- جلوگیری از خطر انتقال پول نقد
- وسیله راحت برای پرداخت هنگام خریداری بدون استفاده از پول نقد
- قابل استفاده در ماشین های پاس هنگام خریداری
- قابل استفاده برای پرداخت هنگام خریداری از طریق انترنت
- برداشت پول نقد از ماشین خودکار صرافی
- قابل استفاده هنگام سفر در خارج از کشور

چگونه می توانیم که کارت اعتباری را از سو استفاده محفوظ نگهداریم؟

- شماره رمز یا پن کود کارت اعتباری خویش را مخفی نگهداشته و با هیچ کسی آنرا شریک نسازید.
- پن کود تان را در جایی یادداشت نکنید که کسی به آن دسترسی پیدا کرده بتواند.
- پن کود تان را در کتابچه یادداشت، تیلفون موبایل، پیام یا مسج موبایل، مسنجر فیسبوک، واتسپ، وایبر و ایمیل ننویسید.
- در صورت مفقود شدن کارت اعتباری تان، عاجل به مؤسسه مالی تان زنگ زده تا کارت شما را قفل کند.
- اگر هنگام استفاده، کارت شما در داخل ماشین خودکار صرافی قید گردد، به مؤسسه مالی تان تیلیفون کرده و موضوع را گزارش دهید. قابل ذکراست که وقتی کارت داخل ماشین خودکار صرافی قید ماند، هیچ کسی به جز مسئولین مؤسسه مالی تان نمی تواند به آن دسترسی پیدا کرده و آنرا بیرون کند. پس در این صورت امکان سرقت آن توسط کسی وجود نخواهد داشت.
- اگر در نزدیک ماشین خودکار صرافی، هنگامی که می خواستید پول نقد اخذ کنید، افراد مشکوک را دیدید، از کشیدن پول در آنجا جلوگیری کنید.
- در صورت ملاحظه پرداخت مشکوک از حساب تان، به زودترین فرصت مؤسسه مالی تان را مطلع سازید.

## بزګرانو ته د پور ورکړه؛

# پرمختګ رامنځته کوي

افغانستان چې یو کرنیز هېواد دی او بزګران یې له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي، له دوی سره مرسته کولای شي د کرنیزې برخې د ودې سبب شي او د بزګرانو په ژوند کې د مثبت بدلون د رامنځته کېدو لامل وګرځي.

کوچني پورونه، بزګران دې ته هڅوي چې خپلې کرنیزې چارې پراخې کړي او له دې لارې د پخوا په پرتله زیات محصول تر لاسه کړي. په هېواد کې په سنتي ډول کرکیله د دې لامل شوې ده چې بزګران له ډېرې ځمکې او یا هم زیات فزیکي ځواک کم حاصل تر لاسه کړي، خو دا ډول پورونه کولای شي د بزګرانو سره د پرمختللو کرنیزو وسایلو په رانیولو کې مرسته وکړي. د بزګرې پر مختللي تخنیکي وسایل د بزګرې پر چارو نېغ په نېغه اغېزه لري او کولای شي د محصولاتو په میکانیزه کېدو او حاصلاتو په زیاتوالي کې د پام وړ رول ادا کړي.

د کرنې د پراختیا صندوق، له جوړېدو تردې دمه ۱۳.۲ میلیارډه افغانۍ پور منظور او دغه رازسوداګرو، کوپراتیفونو، »



د کرنې او مالدارۍ ټولنو، مالي منځګړو، د غواساتنې، کب روزنې او چرګانو پالنې فارمونو، د وچو او تازه مېوو صادروونکو او پروسس کوونکو، د اوړو د تولید فابریکو، د کرنیزو توکو د تولید شرکتونو، مغازو او د کیمیاوي سرو واردوونکو او د کرنې برخې پر سوداګرو ۱۰.۴ ملیارډه افغانۍ وېشلي دي. له دغو چوپړتیاوو څخه په ۳۲ ولایتونو کې ۵۵زره او۶۶ بزګران په مستقیم ډول برخمن شوي دي.

هغه بزګران او د کرنې د برخې متشبثین چې د کرنې د پراختیا صندوق له پورونو برخمن شوي دي، عواید او تولیدات یې له ۲۱ تر ۲۵ سلنه لوړه شوې ده. دې ته په کتلو سره ویلای شو چې له بزګرانو سره په دې برخه کې مرسته کولای شي د دوی او په ټول کې د هېواد په اقتصادي وده کې مرسته وکړي.

بلخوا د افغانستان بانک هڅه کوي چې له بېلابېلو لارو د سوداګرۍ، کرنې او نورو برخو د پراختیا او پرمختګ لپاره د پورونو د ورکړې په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کړي.

په دې وروستیو کې دې بانک له بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو سره د پورونو د ورکړې په برخه کې دوه اړخیز، درې اړخیز او څلور اړخیز هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي او د پورونو په برخه کې یې ډېرې آسانتیاوې رامنځته کړې دي.

دا مهال هېوادوال کولای شي په ډېرې آسانۍ سره د خپلو چارو د پرمختګ لپاره پورونه تر لاسه کړي او له آسانتیاوو یې ګټه پورته کړي.•

سرچینې:

۱ – د کرنې وزارت څه باندې۱۴ زره بزګرانو ته، ۱.۱ ملیارډه افغانۍ پور ورکوي/ یکشنبه۱۴۰۰/۳/۹ – ۱۴:۱۴ https://www.mail.gov.af/ps



# هغه دندې چې لږې پانګې ته اړتیا لري



په دې مقاله کې د داسې دندو او لارو چارو په اړه معلومات را غونډ شوي دي چې لږې پانګې‌اچونې ته اړتیا لري او پر مټ یې کولای شئ په کم وخت کې ګټه تر لاسه کړئ. په لاندې ډول د دې ډول دندو په اړه لنډ معلومات در سره شریکوو:

**د کارموندنې خدمتونه:** تاسو کولای شئ داسې یوه کمپنۍ جوړه کړئ چې د نورو شرکتونو لپاره د په کارګمارنې خدمتونه وړاندې کړئ. تاسو د دې چارې لپاره غوره معلوماتو ته اړتیا لرئ. مانا دا چې تاسو باید د داسې کسانو په اړه معلومات ولرئ چې په ځانګړو برخو کې مهارتونه ولري. کله چې یاد شرکتونه د هرې برخې کارکوونکو ته اړتیا پیدا کوي تاسو به مهارت لرونکي کسان ور پېژنئ او له دې لارې به عاید تر لاسه کوئ.

**د ژباړې خدمتونه:** د نړۍ په دې پرمختللي عصر کې زیات شمېر شرکتونه په کار بوخت دي او ډېر کله د ژبو په برخه کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان کېږي. د ژباړې خدمتونو مرکز جوړول پانګې‌اچونې ته اړتیا نه لري، تاسو کولای شئ له خپل کور څخه د ژباړې خدمتونه وړاندې کړئ. د دې لپاره چې دا خدمتونه مو باوري شي په کار ده چې په هره برخه کې مهارت لرونکي ژباړونکي ولرئ.

**د ویډیو کنفرانس تجهیزات او د غونډو خونه:** زیات شمېر کوچنۍ پانګې‌اچونې د ویډیو کنفرانس لپاره تجهیزات او د غونډو اتاق نه لري. که چېرته تاسو د ویډیو کنفرانس تجهیزات او داسې خونه لرئ چې غونډې په کې تر سره شي کولای شئ له دې لارې عاید تر لاسه کړئ.

**د موټر د ښکلا ( تزیین) خدمتونه:** په نړۍ کې دا مهال ډېری کسان نه شي کولای چې لوړ ماډل لرونکي موټرونه وپېري، خو دوی د خپلو موټرونو په ظاهري ښکلا کار کوي. دا چاره کولای شي خلکو ته د کار زمینه برابره کړي او ډېری کسان دا مهال په لویو ښارونو کې پر همدې ډول دندو بوخت دي.

**د موټر چلونې زده کړو خدمتونه:** د موټرچلونې زده‌کړو خدمتونه د هغو کسبونو له ډلې دي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره پرمختګ کوي. په نړۍ کې د هرې ورځې په تېرېدو سره د موټرونو شمېر زیاتېږي او ډېری کسان غواړي موټر چلول زده کړي. که تاسو هم

»

غواړئ چې د موټرچلونې زده کړه خدمتونو مرکز جوړ کړئ د ګوتو په شمار تکړه موټر چلوونکو ته اړتيا لرئ.

**د موټرونو پارکينګ:** که ځمکه لرئ او هغه کې مو آبادي نه وي کړې پارکينګ يې کړئ. دا چاره نه يوازې دا چې لګښت ته اړتيا نه لري، بلکې سمدستي ګټې ته هم برابره ده.

**د سپورت استادي:** که د ورزش په هره برخه کې مهارت لرئ، کولای شئ په همدې برخه کې شاګردان پيدا کړئ او په يوه ځانګړې ورزشي برخه کې د هغو استاد شئ او له دې لارې عايد تر لاسه کړئ.

**د ماشومانو ساتنه:** که تاسو په ښاري سيمه کې ژوند کوئ، کولای شئ وړکتون جوړ کړئ. باوري يم چې ستاسو د اوسيدو سيمه کې ډېرې داسې کورنۍ شته چې زيات مصروفيتونه لري او دوی خپل ماشومان د ساتنې لپاره تاسو ته در استوي چې له دې لارې تاسو کولای شئ د پام وړ عايد تر لاسه کړئ.

**د خوړو سيار خدمتونه:** که د خوړو تيارولو په برخه کې مهارت لرئ او خوندور خواړه تيارولی شئ، همدا يې وخت دی. په کور کې مو خوندور خواړه تيار کړئ او په سيار ډول يې و پلورئ. په ټولنيزو رسنيو کې د خپلو خوړو د پلورلو لپاره بازار موندنه وکړئ او د غوښتونکو تر کور يا کار ځای يې ور ورسوئ. دا هم د عايد تر لاسه کولو کم لګښته او آسانه لار ده.

**دويم لاس توکي وپېرئ:** دويم لاس توکي وپيرئ او په لږ ګټه يې بېرته وپلورئ. که څه هم اوس نړۍ ډېر پرمختګ کړی دی، خو باور وکړئ چې همدا اوس ډېر کسان شته چې له تاسو څخه دويم او يا هم درېيم لاس توکي واخلي. دا سوداګري هم کمه پانګه غواړي، خو ګټه يې ژر تر لاسه کولای شئ.

**د ښوالۍ خدمتونه:** شايد تاسو ته د ښوالۍ د خدمتونو نوم نوی ښکاره شي، خو په نړۍ کې لوی لوی شرکتونه شته چې په دې برخه کې کار کوي. که تاسو د ښوالۍ په برخه کې مهارت لرئ، همدا اوس لاس په کار شئ او له هغو کسانو سره چې ښونه لري په اړيکه کې شئ. دوی ته مشورې ورکړې او د ښوالۍ په چارو کې يې مرسته وکړئ. دا د عايد پيدا کولو لپاره تر ټولو آسانه لار کېدای شي.

**د سفر ټکټونه وپلورئ:** که تاسو داسې يوه سيمه کې ژوند کوئ چې له هغې سيمې خلک د هېواد نورو برخو ته زيات تګ او راتګ کوي. د موټرونو له نمايندګيو سره خبرې وکړئ له هغوی څخه په تخفيف ټکټونه واخلئ او بيا يې په بازار کې په هغو کسانو وپلورئ چې غواړي د دې نمايندګيو له موټرونو په ګټې اخيستنې له يو ځای څخه بل ځای ته سفر وکړي.

**ګنډونکی ( خياط) شئ:** که تاسو او يا هم ستاسو د کورنۍ کوم غړی د جامو ګنډلو مهارت لري، کولای شئ خپل کور کې دا خدمتونه پيل کړئ. دا چاره هم زياتې پانګې ته اړتيا نه لري او کولای شئ يوازې د ګنډلو د يو ماشين په پيرلو سره دا کار پيل کړئ.

**لاسي صنايع جوړ کړئ:** لاسي صنايع نن سبا ډېر پېرودونکي لري. که تاسو د لاسي صنايعو د جوړولو په برخه کې مهارت لرئ، کولای شئ له دې لارې د عايد خاوندان شئ. که چېرته تاسو دا مهارت هم نه لرئ کولای شئ داسې کسان پيدا کړئ چې د لاسي صنايعو د جوړولو مهارت لري تاسو له دوی په تخفيف سره دا صنايع واخلئ او په بازار کې يې وپلورئ.●


حسيب الله نوري

---

سرچينې:

۱. ايده کسب و کار: ۱۱۴ ايده کسب و کار زودبازده با سرمايه گذاری کم (https_bazdeh.org)

۲. 12business ideas that require little or no startup capital https://baremetrics.com/academy/12-business-ideas-require-little-no-startup-capital



# انتقال پول توسط بانک ها

افراد، خانواده ها و شرکت ها بطور معمول به داخل و خارج از کشور به دوستان، اعضای خانواده و معامله داران تجارتی شان پول ارسال کرده و یا برعکس از داخل و یا خارج کشور پول دریافت می کنند. در کشور های مختلف، بانک ها با داشتن نمایندگی در داخل و یا روابط بانکی با بانک های داخلی دیگر و بانک های خارج از کشور، زمینه انتقال پول را با صورت مصون فراهم می سازند. به این گونه که افراد و شرکت ها می توانند با داشتن حساب بانکی، به آسانی در داخل و خارج از یک کشور به مقاصد قانونی و به شکل شفاف پول بفرستند.

ارسال و دریافت پول از طریق بانک ها مصون، مؤثر و ارزان تمام می شود. اگر شما از طریق حساب بانکی تان پول انتقال دهید، پول شما بر مبنای قانون محفوظ بوده و هیچ کسی بدون حکم قانونی نمی تواند پول شما را تصاحب کند. اخذ پول بر اساس قانون وقتی صورت گرفته می تواند که پول شما از منابع غیر قانونی چون کشت و تجارت مواد مخدر، قتل، قاچاق انسان، دزدی، اختلاس، فساد، رشوه و نظیر آن بدست آمده باشد.

شایان ذکر است که با داشتن حساب بانکی و ارسال و یا دریافت پول از طریق حساب بانکی، شما می توانید که به سوابق معاملات تان تا هر وقتی که خواسته باشید، دسترسی داشته باشید.

# که غواړئ چې سوداګرۍ مو بريالۍ شي دا ولولئ



**ډېرى كسان كوچنۍ سوداګرۍ نه خوښوي او د دې سوداګريو ګټې ته په ټيټه سترګه ګوري. دوى فكر كوي چې كوچنۍ سوداګرۍ تل كوچنۍ وي او ګټه به يې هم كمه وي، خو داسې نه ده كه غواړئ چې پوه شئ لاندې مقاله ولولئ.**

كه مو فكر كړى وي هېڅ لوى سوداګر خپله سوداګري له لوى كار نه ده را پيل كړې، دوى په لومړي سر كې ډېره كمه پانګه اچونه كړې ده او په صبر او حوصلې سره نن د لويو كار او بارونو خاوندان دي. په ياد ولرئ چې لوى كارونه، ډېره پانګه، مهارتونه او ظرفيت غواړي، خو كه يو څوك دا وړتيا و نه لري، په كار او بار كې زيان كوي او له سوداګرۍ يې زړه توريږي.

ډېرئ كسان په كوچنيو شخصي كار او بارونو ( د ليلاميو پلورل، د كباړ ټولول او لبنيات فروشۍ) شرميږي، په ياد ولرئ چې پوه خلك تل پر كسب فكر كوي او له دې لارې غواړي كارګر هم شي، خو كارګر خلك بيا يوازې د معاش په فكر كې دي او تل د نورو كسانو لپاره خولې تويوي يعنې د بل لپاره كار كوي.

دلته د امريكا د چناني شركت د يو مسئول ( همدي اولوكايا) كيسه راخلم، دوى يوازې شپږ كاله كيږي چې فعاليت كوي او د مستو ( لبنياتو) كار او بار كوي. نوموړئ تركي الاصله كردى دى. دا مهال د ياد شركت د شپږ ميلياردي بازار ٢٠ سلنه برخه كنټرولوي، نوموړئ په ٢٠١٨ زيږديز كال كې د فوربس مجلې د ميلياردرانو په ډله كې هم راغلى.

په امريكا كې كورنۍ او طبيعي مستې كمې پيدا كيږي.كله چې دې ټكي ته د همدې كردي ځوان ور فكر شو، نوموړي د امريكا د كوچنيو سوداګريو د پور وركونې ادارې څخه د پور په اخيستلو سره په دې برخه كې كار پيل كړ. له كورونو، اطرافي او غرنيو سيمو يې طبيعي مستې او نور لبنيات را ټولول پيل كړل او

»

د طبیعي مستو د تولید کمپنی یې جوړه کړه.

وروسته یې د خپل کار او بار د غوړېدو لپاره له ترکیې څخه د مستو کارپوهان ور وغوښتل او په امریکا کې د ټولو تولیدېدونکو مستو په اړه یې څېړنه وکړه. کله چې پوه شول په ټوله امریکا کې د دوی په معیار برابرې مستې نه شته، نو هلته یې خپل کار او بار ته پراختیا ورکړه. اولوکایا دا مهال په اتریش او بریتانیا کې هم د مستو کمپنی لري.

مانا دا چې که تاسو سوداګریز فکر ولرئ او د سوداګرۍ وړتیا هم په ځان کې وینئ. حرکت وکړئ له ډېر کوچني کار یې را پیل کړئ او په اړه یې هر اړخیزې څېړنې تر سره کړئ. تاسو باید د خلکو په غوښتنو پوه شئ، خلکو ته داسې یو څه ورسوئ چې نور یې نه شي کولای یعنې تولیدي توکي مو باید د ښه کیفیت لرونکي وي. که تاسو غوره کیفیت لرونکي توکې تولید نه کړئ تر لومړي ځل وروسته به ستاسو توکي څوک و نه پېري.

که د خپل کار او بار د غوړېدو لپاره پلان و نه لرئ د عمر تر پایه به په خپل ټاکلي کار کې پاتې وی او که د خپلې سوداګرۍ د پراختیا فکر در سره وي، نو ستاسو اوسنی د کباړ دوکان به یو وخت د اوسپنې ویلې کولو په فابریکه بدلیږي. زما د دوستانو له ډلې یو کس دی چې د کار او بار پیل یې له یوې وړې غرفې وکړ. هغه مهال یې همدې کوچنۍ غرفه کې یوازې نوشابه او سرې اوبه درلودې، خو اوس د دوی کار تر سوپر مارکیټه رسېدلی دی او سوداګري یې د غوړېدو په حال کې ده.

که د کوچنیو سوداګریو لرونکي یاست په خپل نغدي جریان باید پوه شئ. هغه توکي چې پلورئ لاسته راغلې ګټه یې هم جریان ته دننه کړئ او هغه څه د پلور لپاره وړاندې کړئ چې ژر وځي، که تاسو داسې توکي په خپل دوکان کې ولرئ چې ژر نه وځي دا به ستاسو د فعالیتونو په وړاندې خنډ رامنځته کړي او پیسې به مو بندې پاتې شي.

کوچني کارونه ډېر کله په پورونو پیل کېږي. که تاسو د خپلو کار او بارونو لپاره پیسې نه لرئ، کولای شئ د پور په اخیستلو سره خپلې سوداګریزې چارې پیل کړئ. دا مهال د هېواد د بانکوالۍ او مالي نظام کې ډېرې آسانتیاوې رامنځته شوې دي او بانکونه په ډېرې آسانۍ سره پورونه ورکوي.


هغه هېوادوال چې غواړي سوداګرۍ پیل کړي او یا هم خپلو سوداګریو ته پراختیا ورکړي کولای شي د افغانستان بانک له لوري د پورونو په برخه له رامنځته شویو آسانتیاوو ګټه پورته کړي کوم چې د سوداګریزو بانکونو له لوري ورکول کېږي.

په یاد ولرئ چې کوچني کارونه ډېره ګټه نه کوي، مانا دا چې له کوچنیو کارونو تاسو د ډېرې ګټې تمه مه کوی، خو که ستاسو سوداګري بریالۍ وي په شپږو میاشتو یا هم یو کال کې باید خپل ټول پورونه پرې کړئ.

مه هېروئ د کارونو د بریالیتوب لپاره په پیل کې اړینه ده چې دا پوښتنې له ځان وکړئ څنګه خپله سوداګري بریالۍ کړم؟ څنګه خپل پور ژر پرې کړم او ډېر پېرودونکي ومومم؟

دا هم مه هېروئ چې که ستاسو سوداګري ډېره وړه هم وي، خو تاسو خپلې ټولې پیسې په یو ځای په کار مه اچوئ لږ لږ په کار واچوئ او د بریا په صورت کې مو د پانګې اچونې کچه زیاته کړئ او له خپلې بریالۍ سوداګرۍ خوند واخلئ.

سرچینې:
۱ –څنګهیوه کوچنۍ سوداګري پیل کړو؟/ د خپریدو وخت: اګست ۲۷، ۲۰۱۹
(yaraan.comڅنګه یوه کوچنۍ سوداګري پیل کړو؟ – یاران )
۲ – د یوې بریالۍ سوداګرۍ لپاره څلور اصلي قوانین/جولای ۰۳، ۲۰۱۶
https://www.afghan.tips/2016/07/03



# مختصری بر توسعه یافتگی اقتصادی

در عصر حاضر، مهمترین موضوع در زندگی بشریت عبارت از توسعهٔ اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی است. توسعه به مفهوم اصلی آن عبارت از بهبود در کیفیت زندگی مردم در بخش های مختلف زندگی، مانند کاهش فقر،

»

بهبود محیط زیست، تعلیم و تربیهٔ معیاری، شرایط کار، استفاده از تکنالوژی جدید در بخش های مختلف زندگی و غیره می باشد.

نا گفته نباید گذاشت که شاخص ها و معیار های توسعه یافتگی در کشورهای مختلف از هم متفاوت می باشند. ازدیاد نفوس، نرخ باسوادی، درآمد کافی و غیره که درآینهٔ ملی محاسبه می گردند، منعکس کنندهٔ توسعهٔ اقتصادی یک کشور هستند.

امروز گرچه کشورهای توسعه یافته بر بسیاری از مشکلات اقتصادی شان فایق آمده اند، اما با آن هم هنوز نا برابری، محرومیت، عدم تعادل در ساختار های اجتماعی و اقتصادی شان وجود دارد.

آنچه در بیشتر جا ها برای توسعهٔ اقتصادی مهم و با ارزش است، عبارت از انتخاب الگوی مناسب توسعه همراه با توجه به ساختار اجتماعی شان می باشد.

توسعه نیافتگی یک کشور را برخوردار نبودن از دانش مناسب، پایین بودن درآمد سرانه، سرمایه گذاری اندک، استفاده از تکنالوژی عقب مانده، قلت منابع، بالا بودن نرخ جمعیت و غیره نشان میدهد که همه آنها از علت های عمدهٔ عقب ماندگی می باشند.

در شرایط کنونی هر روز شکل تازهٔ از توسعهٔ اقتصادی به وجود می آید، مؤسسات و شرکت ها با هم در ارتباط بوده و تغییرات مالی در هر یک از آنها بر دیگر تأثیر کرده و روز بروز فعالیت های شان پیچیده تر می گردد. این عمل باعث می شود که نقش حسابداری به عنوان فراهم کنندگان اطلاعات مالی با استفاده از استندرد های حسابداری برای استفاده کنندگان بیشتر مورد اهمیت قرار گیرد.

توسعه و تنوع فعالیت های اقتصادی و گسترش فعالیت های آنها در طول دههٔ گذشته نیازمندی نظارت مالی بر بخش های مختلف تولید را تشدید کرد. از جمله یکی از عوامل مهم و اساسی توسعه اقتصادی، جذب سرمایه و هدایت آنها به سمت سرمایه گذاری در فعالیت های تولیدی و تجاری می باشد. در این میان بخش مهم زیر ساخت های توسعه را اطلاعات مالی قابل اتکاء و مفید برای جذب سرمایه گذاری ها تشکیل می دهد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- عنوان / نقش حسابداری در توسعه اقتصادی / تاریخ نشر – سال ۱۳۹۴ https://civilica.com

۲- عنوان / نقش حسابداری و مالیات در توسعه اقتصادی کشور https://www.modiryar.com تاریخ نشر / سال / ۱۳۹۴

۳- https://moshaveranco.com/ عنوان / نقش مؤثر حسابدار در توسعه پایدار / تاریخ نشر / ۲۲ / ۷ / ۱۳۹۹


پول افغانی نشانۀ افتخار،
اقتدار و هویت ملی ماست!

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۷۱ میزان ۱۴۰۰



## ملي پیسې، د ملي یووالي سمبول او زموږ د هېواد د ملي اقتدار نښه ده